

Ketabton.com

# مصطفی کمال اتاترک

ژباړه: زاهد خلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی کمال اتاترک

ژباړن: زاهد خلیلي

کال: ۲۰۱۴/اکتوبر

د ژباړن لاندې کتابونه له کتابتون ویبپاڼې ډاونلوډ (ښکته) کولای شئ.

۱- لومړۍ نړیواله جګړه

۲- فیوډالیزم (د ځمکوالۍ نظام)

۳- د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۴- ستر ساینسپوهان (د نړۍ د اتو مشهورو ساینسپوهانو ژوند)

۵- سلطان عبدالحمید ثاني

۶- شرق او غرب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مصطفی کمال اتاترک

.....د عثماني خلافت د له منځه وړلو لوبه خپل پای ته رسېدونکې وه، اوس داسې یوه مصنوعي هیرو ته اړتیا وه، چې د دښمن فوځ ته د فرار شکل ورکړي، دا شخص باید د اسلامي امت سره اړیکه ولري، د داسې امت سره چې د خپلې مایوسۍ اوج ته رسېدلی دی، دا شخص باید په داسې ډراماتیک شکل میدان ته راوستل شي، چې د دې امت زړونه وګټي. مسلمانان په دغه شخص د نجات راوستونکي، محسن او هیرو ګمان وکړي، تر څو هغه لږ څه ځواک چې د مسلمانانو په منځ کې پاتې دی، هغه له منځه یوسي او اسلامي سیمې ونیسي، دغه پروژه د هغه لسګونو پروژو څخه ډېره ګټوره وه، کومې چې پخوا کله نا کله جوړې شوې وې.

انګرېز د خپلو جاسوسانو په ملتیا وکولای شول، چې داسې یو هیرو پېداکړي. یونانیانو په ۱۳۳۸ هـ ق کال کې ازمیر د انګلیسانو په مرسته نیولی وه او په اناطولیه کې خښنه شوې صلیبي کینه یې ببرته راویستې وه، مصطفی کمال اتاترک د عثماني دولت د عزت او حرمت د ساتلو په شکل راښکاره شو . هغه په ترکانو کې د جهاد روح واچاوه، قران کریم یې په خپلو لاسونو کې ونیوه او یونانیان یې وشړل. د دښمن فوځ د وسلې د استعمال پرته وتښتېده او ډېرې سیمې یې خالي کړې. مصطفی ورو ورو راښکاره کېده، اسلامي نړۍ د هغه په دې کار ډېره خوشاله شوه، هغه ته یې د غازي لقب ورکړ او شاعرانو یې په ستاینه کې شعرونه وویل.

احمد شوقي د خپلې یوې مشهورې قصیدې په لومړي شعر کې هغه دویم خالد بن ولید ونوموه.

شوقي هغه د صلاح الدین ایوبي سره په یوه صف کې ودروه.

کله چې خلک د مصطفی کمال پاشا او د خلیفه شپږم وحیدالدین محمد ماتې سره پرتله کوي؛ نو مصطفی ته ډېر درناوی ورکول کېږي، ځکه چې خلیفه خپل سر په ګرېوان کې ټیټ کړی او ذلیل ناست وه. په ورځپاڼو کې د مصطفی نه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه کېده، چې خلیفه د ټول قوم مجرم دی او د مرګ د سزا مستحق دی. مصطفی د هغوی په نظر یو مجاهد شو، داسې چې خپل ځان یې د خلافت د لوړوالي لپاره نذرانه کړی وي.

خو، ډېر وخت نه وه تېر شوی، چې د مصطفی کمال حقیقت ښکاره شو، خلک پوه شول، چې دا خو د اسلام د دښمنانو د یهودو او عیسویانو تراشل شوی هیرو دی، په ځانګړي ډول د انګرېز، چې پوهېده، د خلافت له منځه وړل دومره اسانه کار نه دی. د له منځه وړلو لپاره یوه لاره ده، چې یو هیرو رامنځته شي او د یوه ستر لاربسود په توګه وړاندې کړل شي، د هغه شخص په شاوخوا د عزت، کرامت، او بریالیتوبونو داسې یو جال خپور کړای شي، چې خلک هغه ته د یوه معجزه شخص په توګه وګوري، د هغه شخص په لاس څه داسې اعجازي کارنامې وکړي، چې خلک یې په اړه د اسلامي امت د نجات ورکوونکي شخص فکر وکړي، د هغه په لاس داسې یو ټپ رامنځته کړي، چې ډېر ژور نه وي، تر څو د هغه د اخلاص په اړه شک ونکړای شي. خلکو د هغه په درواغجنو بریاوو باندې د شک فکر نشو کولای، بس هغه یو هیرو وه. متحدینو خپله هم خفګان ښکاره کړ او د سلطان نه یې د جګړې د پای ته رسېدو غوښتنه وکړه. هغه د سولې لپاره مصطفی وړاندې کړ، تر څو د خلکو غوښتنو ته ځوابووایي، د فوځي افسرانو تر منځ یې ځای پیداکړ، درناوی یې زیات شو، د خلیفه درناوی کم شو، تر څو د خلافت په اړه د خلکو فکر خراب شي. د انګرېز په چالاکیو باندې پوهېدل دومره اسانه کار نه دی.

د انګرېز جاسوسي شبکو خپل هدف ترلاسه کړ، د دې شبکو او مصطفی کمال تر منځ د ارمسټرانګ په نوم یوه شخص تګ راتګ کاوه، دغه شخص د مصطفی کمال سره هغه وخت اړیکې جوړې کړې وې، کله چې مصطفی کمال په شام او فلسطین کې د عثماني فوځ سپه سالار وه.

ارمسټرانګ په خپل کتاب کې لیکلي، چې څنګه یې د مصطفی کمال سره اړیکې جوړې کړې او له کومه دا لړۍ پیل شوه. هغه د مصطفی کمال د مور دویم واده چې د یوه امیر (دوډېسي) سره یې کړی وه، د مصطفی کمال د بدلېدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېل نقطه بولي، مصطفی کمال د خپلې مور څخه خفه شو او د هغې سره یې د ملاقات کولو نه انکار وکړ. بیا هغه د خپل یوه مقدوني راهب ملګري (فتحي) څخه د فرانسوي ژبې د زده کړې لپاره هغه ته ورته. په دې وخت کې یې د والټر او روسو کتابونه ولوستل، د هریز، جان سټیوړټ او میل منع شوي کتابونه یې هم ولوستل، تر دې چې د قومي جذبې څخه ډک شعرونه او نظمونه ویل یې شروع کړل او خپلو هغو فوځي ملګرو ته به یې اورول، کوم چې د ده سره په کالج کې په زده کړه بوخت ول. هغه به د سلطان پسې بد ویل، په داسې حال کې چې ۲۰ کلنۍ ته لا نه وه رسېدلی. هغه بیا استنبول ته لاړه او عیش او عشرت یې پیل کړ، د شراب څښلو او قمار بازی په ځېر قباحتونو باندې اخته شو او په (وطن ګوند) کې د داخلېدو څخه مخکې د عشق په څېر ناروغۍ باندې هم اخته شو.

ارمسټرانګ د مصطفی کمال د بیوګرافۍ د لیکلو پر مهال د هغه او د دوئمه او ماسوني یهودو د مجلسونو تر منځ د اړیکو ذکر هم کوي او لیکي: هغه ته د یو ایټالوي هویت لرونکي یهودي په کور کې د ماسوني ټولنې لخوا دعوت ورکړل شو؛ ځکه هغه ایټالوي ته د ټرون پر اساس ځانګړي مراعات ورکړل شوي وه او هغه د دغو مراعاتو نه په استفادې سره داسې ټولنې جوړولې، متحدینو به د یهودو د ملاتړ په موجودیت هلته غونډې کولې او د هېواد او قوم پر ضد به یې پلانونه جوړول. متحدینو به د یهودو کورونو ته په ډېر اطمینان سره تګ راتګ کاوه، په دې یهودو کې به ځینې د مصطفی کمال ډېر نږدې دوستان ول، لکه (فتحي) چې د مقدونیي وه او د مصطفی کمال پخوانی ملګری وه، فتحي د ماسوني ټولنې غړی وه. ارمسټرانګ دا هم لیکلي، چې څنګه هغوی خپله انقلابي ټولنه جوړه کړه او د ماسوني ډلو د غوښتنې پر اساس یې هغوی د خپلو موخو لپاره څنګه منظم کړل او څنګه یې د هغو خلکو سره اړیکې جوړې، کوم چې سلطان د هېواده شړلي ول.

ارمسټرانګ د دې خبرې ذکر هم کوي، چې څنګه یې مصطفی کمال انتخاب کړ او د هغه نور ملګري یې پرېښودل، تر څو د هغه په واسطه انګلستان خپل وروستي پروګرام ته د عمل جامه ور واغوندي. ارمسټرانګ لیکي: مصطفی کمال په فطري توګه د واکمن کېدو شوقي وه، هغه خوښول، چې د امر او نهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک يې په لاس کې وي، هغه د متحدو مشرانو هېڅ درناوی نه کاوه او د هغوی سره يې جګړه کوله، لکه انور جمال، جاويد، کوم چې اصلاً يهودي الاصل وه، نيازي المانی کوم چې ډېر بد صورته انسان وه او طلعت کوم چې په يوه پوسته خانه کې ملازم وه.

يو کوچنی افسر چې حالات يې نشو بدلولای، د انګرېزي جاسوسانو په واسطه لوی بزرګ شو او د برياوو د ترلاسه کولو وروسته ستر غازي او جنرال شو. کله چې ارمسټرانګ د مصطفی کمال د ژوند په اړه ليکل کوي؛ نو د هغه د شخصي ژوند يوه کيسه هم وړاندې کوي. هغه د مصطفی کمال او لطيفې په نوم د يوې انجلۍ تر منځ د يوه افسانوي واده ذکر هم کوي، لطيفه د اميريه د کورنۍ يوه شتمنه پېغله وه، کومه چې د پاريس نه ښېرته راستنه شوې وه، تر څو دلته د خپلو تجربو، نوي تعليم او د مختلفو ژبو د زده کړې د مهارت په کارولو سره مصطفی کمال د خپلو زلفو تر اغېز لاندې راولي، هغه مصطفی کوم چې د خلافت د تجزيه کولو وړتيا لري او د غازي لقب يې خپل کړی دی. دغه شهزاده انجلۍ د خپل امير د محل په څېر کور کې اوسېده، دې د خپل ناز او ادا په واسطه وکولای شول، چې مصطفی کمال په خپل دام کې راګېر کړي. په دې ډول د مصطفی کمال او فکريه په نوم د يوې بلې انجلۍ تر منځ جلا والی رامنځته شو، دغه انجلۍ يې ميونخ ته د علاج لپاره لېږلې وه او د هغې د ناروغۍ له امله وه، چې مصطفی کمال د هغې خواته مائل وه، وروسته مصطفی کمال د هغې د ځان وژنې تدبير جوړ کړ او په دې ډول يې ځان ترې خلاص کړ، تر څو د لطيفې سره واده وکړي. له دې وروسته يې د سعادت او نورو لسګونو انجونو او مېرمنو ژوند خراب کړ، د کومو په اړه چې بشپړ معلومات د هغه د يوه فوځي ملګري سره موجود ول.

لطيفه، هم وروسته د مصطفی کمال د زور زياتي ښکار شوه او د يوې وزارتي پرېکړې پر بنسټ يې ترې طلاق واخيست، مصطفی کمال هغه وويروله، چې د هغه د شخصي ژوند په اړه بايد هېڅ ونه وايي، کنه نو بده سزا به ورکړل شي. اوس د هغه په خوا کې يوازې يوه انجلۍ وه، چې عفت نومېده او د مکتب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکې وه او د تاريخ ليکلو سره يې مينه وه، دې هغه وحشي دومره راخپل کړ، چې د هغې عبادت کولو ته تيار شو او د هغې په اشاره ګډېده.

خو، لطيفه د هېواد کوم قانون له دې خبرې نه منع کوله، چې په خپلو يادښتونو کې د خپل ژوند کړاوونه وليکي. د هغې يادښتونه د ۱۹۷۳ ز کال د جون په مياشت کې يوې ترکي ورځپاڼې (الحريه) خپاره کړل، چې په هغو کې يې د مصطفی کمال د شخصي ژوند او د هغه د شراب څښلو په اړه يې ليکل کړي ول. دغې ورځپاڼې هڅه وکړه، چې د دې خبرو پړه د اتاترک په ملګرو (قلج علي،نوري جنکر) او (رجب هدي) باندې ور واچوي، دوی د اتاترک وخت ضائع کاوه، دې خلکو د قاتلينو د يوې ډلې سره اړيکې درلودې، اتاترک د دوی په مرسته د خپلو ډېرو دښمنانو ځالې پېداکړې.

د دې ډول رذيلو اخلاقو په درلودلو سره د مصطفی کمال مشهوره کېدل، کومه عجيبه خبره نه وه، په ځانګړي ډول کله چې موږ په دې خبره پوه شو، چې هغه د دوئمه يهودادنو څخه دی.

په يهودي دائرة المعارف (انسايکلوپيډيا) کې دا خبره ليکل شوې، چې د سلانيک (سالونيکا، چېرته چې مصطفی کمال زيږېدلی وه) زياتره خلکو د دې خبرې شاهدي ورکوله، چې اتاترک د دوئمه يهودانو سره اړيکه درلوده، همدغه نظريه د هغو مسلمانانو هم ده، کوم چې د اتاترک مخالفين دي؛ خو حکومت د دې خبرې نه انکار کوي.

ټويني د مصطفی کمال په نسب نيوکه کوي او وايي: د مصطفی کمال په رګونو کې يهودي وينه چليږي، سلانيک د يهودانو د اوسېدو ځای وه، کله چې په هغوی باندې ظلمونه کېدل؛ نو دې کورنۍ اسلامي عقيده خپله کړه او يهودي عقيده يې پرې ښوده؛ خو د مصطفی کمال عادات، د سترګو رنګ او شکل او بڼه يې دا وايي، چې د يهودي وينې نه اغېزمن دی.

اسامه عينايي ليکي: دوئمه يهودان په اتاترک باندې وياړ کوي او په بشپړ يقين سره دا وايي، چې هغه د يهودي نسل سره اړيکه درلوده او په دې اړه دا دليل

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي، چې کله يې د حکومت واګې تر لاسه کړې؛ نو اتاترک د اسلام پر ضد خپلې ارادې څرګندې کړې.

وروسته، کله چې د مصطفی کمال ټولې کړنې ښکاره شوې، دا خبره ثابتوي، چې هغه د اسلام سره کينه درلوده. کله چې په ۱۳۳۷ هـ ق کال کې په انګوره کې هغه د يونانيانو پر ضد بريالی شو، هغه د خلکو په مخکې اعلان وکړ، چې هغه څه چې په نږدې راتلونکي کې به پېښ شي، يوازينۍ موخه يې د سلطنت او خلافت ساتل دي او هم د سلطان او د اسلامي حدودو د نورو د غلامۍ نه ازادول دي.

خو کله چې يې په ۱۳۴۱/۱۹۲۳ کال کې د حکومت واګې تر لاسه کړې؛ نو د ده په مشرۍ (جمعيت الوطنيه الترکيه) د جمهوريت اعلان وکړ او مصطفی کمال يې خپل لومړنی مشر وټاکه. مصطفی د لږ وخت لپاره د خلافت د ساتنې ايکټينګ وکړ او د خليفه محمد السادس (چې د انګرېز د بېړۍ په واسطه مالټا ته لېږل شوی وه) پر ځای يې عبدالمجيد بن عبدالعزيز خليفه وټاکه؛ خو خليفه تش په نوم واک هم نه درلود.

خليفه عبدالمجيد يو باسواده او متمدنه شخص وه، څرنګه چې د عثماني نسل د شان سره مناسب ول، عبدالمجيد د ترکانو له نظره د اسلامي عثماني ميراث او تاريخ ژوندی مثال وه. د استنبول خلک د هغه د يوه نظر ليدو ته بې صبره ول او کله چې به خبر شول، چې خليفه تشريف راوړي؛ نو په منډه به ورتلل، د جمعې د مبارکې ورځې لمانځه ته د راتګ پر وخت به يې مسلمانانو ډېر دروند استقبال کاوه. خليفه ښه پوهېده، چې په څومره ستر منصب باندې ټاکل شوی دی او د څومره سترې کورنۍ سره اړيکه لري، کله چې به بېرون راوته؛ نو کله به يې د سلطان محمد فاتح پټکی په سر وه او کله به يې د سلطان سليمان القانوني توره په غاړه کې اچولې وه.

دغه ټول کارونه مصطفی کمال نشو زغملی، د خليفه سره د خلکو دومره مينه هغه ته د زغملو نه وه، هغه خليفه د مانځه لپاره د بېرون وتلو نه منع کړ، بيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته ورکړل شوي مراعات نيم کړل. مصطفی کمال په خپل رعيت باندې ډېر ظلم وکړ، چې د ده د دې ظلمونو ملاتړ غربيانو هم کاوه.

د ۱۹۲۴ ز کال د مارچ په درېمه مصطفی کمال د (قانون جوړوونکي پارلمان) غونډه راوغوښته، مصطفی کمال پوهېده، چې دا تش په نوم پارلمان دی او زما (مصطفی کمال) مخالفت نشي کولای، دې پارلمان ته مصطفی کمال د خلافت د له منځه وړلو وړانديز وکړ، په دويمه ورځ د خبرو اترو پرته دا پرېکړه وشوه، چې خليفه به له هېواده شړل کيږي، په دې پرېکړه ټول چپ شول او په دې ډول د مصطفی کمال په لاس د اسلامي خلافت هغه رڼا ووژل شوه، کومې رڼا چې د پېړيو پېړيو راهيسې د مسلمانانو د يووالي او بقاء ضمانت کړی وه.

مصطفی کمال په حقيقت کې هغه پلانونه عملي کول، کوم چې د غربيانو سره په تړونونو کې لاسليک شوي ول. په ۱۹۲۳ م کال کې د لوزان د سولې تړون لاسليک شوی وه، په دغه تړون کې د کروزن لخوا (چې د انګرېز د وفد مشر وه) څلور مادې د پام وړ دي.

۱- ترکيه به د اسلام سره خپلې ټولې اړيکې شلوي.

۲- اسلامي خلافت به په بشپړ ډول له منځه وړي.

۳- خليفه، ملګري يې او اسلام به د ترکيې له سرحدونو څخه وباسي او د خليفه ټوله شتمني به ضبطوي.

۴- د ترکيې د پخواني قانون پر ځای به نوی قانون نافذوي.

په اسلامي نړۍ کې د قهر او غصې څپې خپرې شوې. شوقي چې لږ څه وړاندې يې په شعرونو او قصيدو کې د اتاترک صفتونه کول اوس يې په شعرونو کې دا ويل:

منبر او محراب ستا (خلافت) په مرګ په ژړا دي، شاوخوا سيمې زارۍ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند د غم انځور وړاندې کوي، مصر هم پرېشانه دی، دوی د باران په څېر د غم اوښکې تویوي.

شام، عراق او فارس (ایران) دا پوښتنه کوي، چې ایا کوم لرې کوونکي د ځمکې څخه د خلافت نوم او نښان ورک کړی دی؟.

اې باتورو! ژوندی ښخه شوې ازادي ببرته راوړئ، هغه ازادي، کومه چې د کومې ګناه او خطاء پرته وژل شوې ده.

له دې وروسته شوقي په مصطفی کمال ډېرې نیوکې کوي، هغه ته ډېر بد وایي، چا چې ترکان په زور سره له اسیا وشړل او اروپا ته یې بوتلل، دوی چې په ختیځ کې ډېر ژور تللي وه، د لوېدیځ په دروازو یې په انتظار ودرول. شوقي وایي:

... دا فتنه داسې یوه شخص راوړې ده، چې محمدي شریعت ته هېڅ ارزښت نه ورکوي، د عدل او انصاف دښمن دی او د ډېرې ټیټې درجې بې حیاء دی.

چا چې په مسخره ډول فتوا ورکړې، د ګمراهۍ خبرې یې وکړې او په هېواد کې یې کفر او ګمراهۍ ته اجازه ورکړه.

هغه، شرعي قوانین، عقائد او نظریات د خلکو او ښارونو نه داسې وویستل، لکه څنګه چې د جګړې له مېدانه فوځ ویستل کیږي.

د شوقي له نظره د داسې ظالمو او جابرو خلکو د منځته راتګ اصلي لامل د خلکو ناپوهي ده، چې د همدې کمزورۍ له امله خلک ظالمو واکمنو ته سر ټیټوي.

احمد شوقي وایي:

ستړې کارنامې په یوه لحظه کې د زوال سره مخ کېدای شي، په کارنامو سره د خپل نوم د ابدي ژوندي ساتلو کوښښ مکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غېر مسلمانو يوې ډلې د مسلمانانو سټروالی وغورځوه او موجوديت يې پرېښودە، هغه د يوه غافل اکثريت په اړه دا پرېکړه وکړه، داسې اکثريت چې ګمراه او غلام دی.

ما چې د نړۍ قومونو ته وکتل؛ نو د ناپوهۍ نه پرته بله داسې ناروغي مې پېدا نکړه، چې د قومونو د تباهۍ سبب ګرځېدلې وي.

کله، چې بهرني يوه مغلوبه ډله د خپلې ولکې لاندې راولي؛ نو ازاد خلک هم غلامان شي.

مصطفی کمال پاشا خپل پلان په بشپړ ډول عملي کړ او هېواد يې د اسلامي سرحدونو نه بهر کړ. ترکيه اوس په بشپړ ډول د لوېديځوالي پر لور روانه وه. په ۱۹۲۴ م کال کې د اوقافو وزارت له منځه يوړل شو او چارې د معارف وزارت ته وسپارل شوې. په ۱۹۲۵ م کال کې جوماتونو ته قلفونه واچول شول. حکومت د هر ډول ديني حرکت مخالفت پېل کړ، هر ډول ديني خبرې يې بندې کړې. په ۱۹۳۲-۳۱ م کلونو کې يې د جوماتونو شمېر محدود کړ، په هره حلقه کې يې د ۵۰۰ مترو په فاصله جومات پرېښود او اعلان يې وکړ، چې د اسلامي روح د مخکې تګ مخه دې ونيول شي.

مصطفی کمال په جوماتونو باندې د حملې کولو پر مهال د افراط نه کار واخيست، واعظانو ته چې پخوا حکومت معاشونه ورکول، د دوی شمېر ۳۰۰ ته راکم کړ او هغوی ته يې امر وکړ، چې د جمعې د لمانځه په خطبو کې دې زياتې خبرې د زراعت، صعنت او د حکومت د پاليسيو په اړه وکړي او د حکومت کړنې دې وستايي. د استنبول دوه مشهور جوماتونه يې وتړل، لومړی د اباصوفيا جومات وه، چې موزيم يې ترې جوړ کړ او دويم د فتح جومات وه، چې ګودام يې ترې جوړ کړ. هغه قانون چې په ۱۹۲۶ م کال کې نافذ شو، د سويس له هېواد څخه اخيستل شوی وه. د هجري کليزې پر ځای يې يوناني غربي کليزه مروجه کړه، په ۱۹۲۶ م کال کې يې په ټوله ترکيه کې د هجري کليزې پر ځای لوېديځه کليزه نافذه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۲۸ م کال په قانون کې دا خبره بيخي له نظره وغورځول شوه، چې ترکيه يو اسلامي هېواد دی، د لوړې اخيستو (قسم کولو) پخوانۍ طريقه پرېښودل شوه او د خدای تعالی د نوم پر ځای د خپل عزت او شرف په نوم قسم اخيستل پيل شول.

په ۱۹۳۵ م کال کې د دولتي رخصتۍ ورځ هم تغير شوه، مخکې به دولتي رخصتي د جمعې په ورځ وه، اوس يې د يکشنبې ورځ وټاکله.

حکومت د ديني تعليم مخه نيوله، ټولې شخصي مدرسې يې وتړلې، د استنبول په پوهنتون کې يې د شرعياتو په پوهنځي کې د محصلينو شمېر راکم کړ او پای په ۱۹۳۳ م کال کې يې په بشپړ ډول وتړه.

مصطفی کمال د هېواد د غربي کولو لپاره هر ممکن کوښښ کاوه، د يوې پرېکړې له مخې يې د ترکي خولۍ پر سر کول منع کړل او پر ځای يې خلکو ته امر وکړ، چې د اروپايي هېوادونو په شکل هيټ پر سر کړي.

په ۱۹۲۹ ز کال کې حکومت په زور سره د ترکي ژبې د ليکلو لپاره لاتيني رسم الخط رامنځته کړ او عربي رسم الخط يې منع کړ. د ورځپاڼو، کتابونو او رسالو خپرېدل په لاتيني رسم الخط باندې پيل شول. عربي ژبه يې د کالجونو د نصاب څخه وويسته، د فارسي ژبې زده کړه يې هم بنده کړه، د ترکي تأليفاتو د خپرولو لپاره يې د عربي ژبې رسم الخط بېخي منع اعلان کړ. د هېواد دننه يې د عربي ژبې د کتابونو اخيستل او خرڅول منع کړل، په دې ډول يې يو خوا د ترکيې او د هغې د اسلامي ماضي تر منځ اړيکه وشلوله او بلخوا يې د ترکيې د خلکو او د ټولو عربي او اسلامي هېوادونو د اوسېدونکو تر منځ اړيکې هم له منځه يوړې.

اتاترک د ترکيې په قوم کې د قوميت د روح د اچولو کوښښ وکړ، ځينې مؤرخينو د دې خبرې څخه ښه ګټه پورته کړه، چې ترکي ژبه د نهرين تر منځ د پخواني تمدن يعنې سامري تهذيب د ژبې سره نږدې والی لري، هغوی ويل، چې په نړۍ کې د پخواني تمدن لرونکي خلک دي، څکه اتاترک غوښتل، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي اخلاقو سره د جګړې وروسته خلکو ته هغه تمدن د نعم البدل په توګه ورکړي، اتاترک د خپل ځان لپاره د اتاترک لقب خپل کړ، چې د ترکانو د پلار معنا ورکوي.

د اتاترک حکومت هره هغه رویه او اخلاق خپل کړل، کومو چې د غرب سره اړیکه درلوده، مختلف هنرونه یې راخپل کړل، د هېواد په لویو میدانونو کې یې خپلې مجسمې جوړې کړې، د رقص سلسله شروع شوه، زیاتره بهرني هنرمندان به هېواد ته راتلل، چې ډېر شمېر په کې فرانسویان او اطریشیان ول.

حکومت د ښځو په حجاب باندې بندیز ولګوه او د بې حجابۍ حکم یې صادر کړ، په ښځه یې د سړي کنترول ختم کړ او دې بې حجابۍ او عریانۍ ته یې د ازادۍ او مساواتو نوم ورکړ، د داسې مجلسونو او رقصونو ستاینه او ملاتړ وشو، چېرته چې ښځو او نرو یو ځای سندرې ویلې او ګډاګانې یې کولې.

کله، چې اتاترک د لطیفې په نوم د ازمیر د یوې یهودې اوسېدونکې سره واده کاوه؛ نو په غربي ډول یې د واده مراسم تر سره کړل، لطیفه د یوه سرمایدار لور وه. اتاترک خپله مېرمن په ټول هېواد ګرځوله، هغې به هر ځای نیم بربنډ لباس اغوستی وه. نائټ کلبونو ته به تلل او د غربي ازادۍ د عامولو تبلیغ به یې کاوه.

اتاترک په ترکي ژبه د قران کریم د ترجمه کولو حکم وکړ، ټولې معناګانې یې بدلې کړې او امر یې وکړ، چې اذان دې هم په ترکي ژبه وکړای شي.

په تعلیمي نصاب کې یې تغیرات رامنځته کړل، د ترکي نشنلېزم د خپرولو لپاره یې د ترکیې د تاریخ د بیا لیکلو امر وکړ، د عربي او فارسي ژبې د لغاتو پر ځای سوچه ترکي الفاظ استعمال شو، پخواني لاتیني الفاظ یې په اروپایي الفاظو بدل کړل.

حکومت اعلان وکړ، چې زموږ توجه به د اروپا په لور وي، د اسلامي نړۍ سره موږ هېڅ اړیکه نلرو، حکومت اسلام ته د زیان اړولو لپاره هر ډول کوښښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ او هر هغه تحریک به یې په ډېرې سختۍ سره ځپه، کوم به چې د اسلامي تعلیماتو د بیا احیاء کولو لپاره کوښښ کاوه.

د مصطفی کمال دې کړنو په مصر، افغانستان، ایران، اسلامي هندوستان، ترکستان او د اسلامي نړۍ په نورو سیمو ډېر اغېز وکړ، لوېدیز پلوو او د استعماري کلتور خادمانو ته موقع په لاس ورغله، چې ترکیه د بېلګې په توګه وړاندې کړي او د انقلاب خبرې شروع کړي. د مصر ورځپاڼو د اهرامونو، سیاست او معظم (په مصر کې یو پخوانی غر) او د هر هغه څه په اړه نارې پورته کړې، کومو چې د اسلامي کلتور سره مخالفت درلود، دې ډول تحریکونو سره غربیانو، یهودي او ماسوني ډلو ډېره مرسته کوله.

دې ورځپاڼو به د غربیتوب د جواز لپاره د ترکیې سیکولر نظام د دلیل په ډول وړاندې کاوه، د هغه د نوي والي تائید یې کاوه او د هغه خبرې به یې په خپلو ورځپاڼو کې نقلولې. د بېلګې په توګه د اتاترک دا خبره د ورځپاڼو ښکلا ګرځېدلې وه: نوې ترکیه د اسلام سره هېڅ ډول اړیکه نلري. مصطفی کمال یوه ورځ قران کریم په خپل لاس کې واخیست او وې ویل: قومونه د داسې قوانینو او اصولو په پلي کېدو پرمختګ نه شي کولای، هغه قوانین چې څو پېړۍ پرې تېرې شوي وي.

د ترکیې سیکولر حکومت، چې مشري یې اتاترک کوله، لکه څنګه چې امیر شکیب ارسلان ویلي دي، د فرانسې او انګلستان په څېر کوم دیني حکومت نه وه؛ بلکې په بشپړ ډول د دین مخالف حکومت وه، لکه د روسیې د سوسیالېستي نظام په څېر. غربي حکومتونو د سیکولرتوب سره-سره د انقلابونو د انجیل حروف، د مذهبي خلکو لباس، مذهبي ورځو او د کلیسا په کارونو کې هېڅ ډول مداخله نه کوله او نه یې د کلیسا په کړنو کوم بندیز لګولی وه.

د مذهب نه د بېزارۍ په رواجولو کې یهودۍ میډیا ستر رول ولوبوه، داسې رول لکه څنګه چې یې د اتاترک د حوصلې په لوړولو کې لوبولی وه. ورځپاڼو به داسې ښودله، چې هغه قتل و غارت او وینه تویول چې د هغه په لاس کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواز لري او دا يوه ستره کارنامه ده. دې ورځپاڼو به د ترکي ښځو فحاشۍ او بربنډتوب ته د ازادۍ نوم ورکوه او هم به يې شراب څښل، قمار کول او زنا کول د تمدن او تهذيب د مظاهرو په توګه وړاندې کول.

دا يو تريخ حقيقت دی، چې مصطفی کمال د اسلامي نړۍ د واکمنو لپاره يوه ښکاره بېلګه شو، له ده وروسته چې څوک هم واکمن کېده؛ نو د هغه استبدادي او ظالم سياست به يې خپلوه، نه يوازې مسلمانانو بلکې د لوېديځ استعماري هېوادونو هم د هغه کړنې د دليل په ډول وړاندې کولې. د بېلګې په ډول، فرانسې په شمالي افريقا کې په زور سره د مسلمانانو عيسايي کول پيل کړل، هغوی يې د خپل دين، عقيدې او د اسلام پرېښودو ته اړ ويستل، هغوی د مصطفی کمال کړنې د دليل په ډول وړاندې کولې او ويل يې، چې له ترکانو زيات پر تاسو د اسلام د ژوندي ساتلو حق نشته.

مسلمانانو د سيکولر ترکيې پر ضد وسله وال بغاوتونه وکړل، تر ټول مهم بغاوت په ۱۳۴۴ هـ ق کال کې په جنوب ختيځې سيمه کې وشو، له دې وروسته په ۱۳۴۹ هـ ق کال په مليمين کې بغاوت وشو، د اتاترک حکومت په ډېر زور زياتي سره دغه بغاوتونه وټکول، ډېرو علماوو خپل ځانونه قرباني کړل او ټوله سيمه په اقتصادي او علمي لحاظ تباه شوه.

له دې وروسته د بديع الزمان سعيد نورسي په مشرۍ د (نور تحريک) پيل شو، چې وروسته يې شاګردانو پر مخ يوړه. د (رسائل النور) رسالې وليکل شوې او خپرې شوې، تر څو په خلکو کې اسلامي شعور پيداشي او هم د اتاترک د سيکولر اصولو سره مقابله وکړي. دې تحريک د سولې لاره غوره کړه او وسله يې پرېښوده، اتاترک ډېر کوښښ وکړ، چې شيخ سعيد نورسي د ځان ملګری کړي؛ خو بريالی نشو، پای يې هغه تبعيد کړ. مصطفی کمال د هغه په دې کار ډېر خفه وه، چې هغه خلک لمانځه ته رابلي، حکومت په هغه دا تور ولګوه، چې د پارلمان د غړو تر منځ يې کرکه پيداکوله، شيخ د دې ځواب داسې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام د راوړلو (منلو) وروسته تر ټولو ستر حقیقت چې د انسان پورې تړلی دی، هغه مونځ دی او کوم شخص چې مونځ نه کوي، خائن دی او د خائن حکومت باطل او مردود دی.

شیخ یې لومړی لږ وخت بندي او بیا یې تبعید کړی وه، دا تور یې پرې لګولی وه، چې دا شخص د حکومت د نظام د بدلولو په تحریک کې لاس لري. خو د شیخ د تبعید سره-سره هم د (نور تحریک) د پوهنتونونو په محصلینو او استادانو، د فوځ په چونیو او د هېواد په مختلفو برخو کې روان وه. یو ځل یې شیخ په دې تور ونیوه، چې شیخ اتاترک د دجال سره تشبیه کړی دی، شیخ د محکمې په وړاندې داسې وویل:

د قران کریم ربنا د لکونو مسلمانانو زړونه روښانه کړي دي، حکومت د شرپسندۍ، خباثت او سیاست د نوم لاندې غواړي، چې دغه ربنا ووژني. واورئ! اې هغو خلکو! کومو چې د دنیا په بدل کې خپل اخرت خرڅ کړی او کفر ته مو سر ټیټ کړی دی: زه چې تر څو ژوندی یم، د خدای تعالی په مرسته به د حق غږ اوچتوم، له تاسو چې هر څوک څّه کولای شي، ودې کړي، زموږ د زړه دا غوښتنه ده، چې د اسلام په یوه کوچني حقیقت مو دې هم سر قربان شي.

شیخ یې بیا تبعید کړ او د ۱۳۶۷ هـ ق کال پورې له هېواده لرې وه، تر دې چې حکومت د مسلمان قوم ځینو غوښتنو منلو ته مجبور شو او دیني کړنو ته یې لږ اجازه ورکړه.

اتاترک په ۱۳۵۶ هـ ق (۱۹۳۸ز) کال کې مړ شو، د خپل مرګ څخه مخکې د مسلمانانو د نه غوښتنې په پایله کې هم په دې بریالی شوی وه، چې ترکیه یو سیکولر هېواد کړي، له مرګ څخه څو کاله مخکې په داسې یوې ناروغۍ اخته شوی وه، چې خپل ځان یې نه پېژنده، هغه لاعلاجه ناروغیو باندې اخته شوی وه، د ناروغیو اصلي لامل یې د شرابو څښل وه، د شرابو د څښلو له امله یې ځیګر خراب شوی وه او اعصابو یې کار پریښي وه، کمزوری شوی وه، ماغزو یې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریښنی وه. همدا وجه وه، چې دا دېکتاتور په زور زیاتي، وحشي جزاګانو او خود غرضۍ کې یوه بېلګه شوه.

مأخذ: سلطنت عثمانیه، لیکوال ډاکټر علي محمد محمد صلابي، ۵۱۲-۵۲۳ مخونه

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**